Pashto

TwinRivers UNIFIED SCHOOL DISTRICT

**انټرنټ ته د کورنیو لاسرسی**

انټرنټ ته لاسرسی له ښوونکو او ټولګیوالو سره د نښلېدو د وړتیا ترلاسه کولو یوه خورا مهمه برخه ده. که چېرې تاسو چوپړتیا نه لرئ، موږ ګڼ شمېر ټاکني لرو ترڅو تاسو ته وړیا یا د لږ لګښت لرونکی انټرنټ برابر کړو.

---

**ټوین ریورز له کمکاسټ سره په شراکت کې د ولسوالی ګڼ شمېر کورنیو ته وړیا انټرنټ برابروي.** دغه پروګرام د ټوین رویرز اکثرو زده کونکو ته د لاسرسی وړ ده، د لاسرسي په برخه کې له ځنو محدودیتونو سره؛ دا پدې وخت کې ترټولو چټکه شته بشپړه وړیا چوپړتیا ده.

لاندې مراحل وګورئ او پلي کړئ:

1. ډاډمن کړئ چې ستاسو کورنی زموږ د شریک د پانې له لیارې د چوپړتیا لپاره کمکاسټ په شرایطو برابره ده، دلته: https://www.internetessentials.com/apply
2. که چېرې تاسو په شرایطو پوره یاست، د ټوین ریورز لخوا چمتو شوې ځانګړې کوډ به ولسوالی ته وړتیا ورکړي ترڅو د میاشتنی لګښت ادا کړي. ټوین ریورز به ټول لګښتونه ادا کړي او په تاسو به هېڅ میاشتنی لګښت ادا نه کړئ.
3. کله چې تاسو په شرایطو باندې خپل پوره والي تائید کړ، بیا د ټوین ریورز د ټکنالوژۍ د مرستې له لیکې سره د techsupport@twinriversusd.org سره په اړیکه کې شئ یا 566-7802 (916) شمېرې ته ټیلیفون وکړئ ترڅو کمکاسټ ته د دننه کېدو وړیا کوډ ترلاسه کړئ.
4. د غوښتنې او دننه کېدو پروسه په https://www.internetessentials.com/apply کې بشپړه کړئ.

د داخلي مهمو موارډو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره: https://www.internetessentials.com/

---

که چېرې تاسو په شرایطو پوره نه یاست او یا د کمکاسټ پورته چوپړتیا نشي ترلاسه کولای، پدې صورت کې AT&T کورنیو لپاره خپل لږ لګښت لرونکې انټرنټي چوپړتیاوې وړاندې کوي.

---

**د AT&T د لږ لګښت لرونکی انټرنټ**

AT&T په میاشت کې د 10$ په مقابل کې انټرنټي چوپړتیاوې وړاندې کوي. یا لږ، د وایفای لاسرسی سره، پرته له قرارداد، پرته له کومې سیما او وړیا نصب په شرایطو پوره کورنیو لپاره.

په شرایطو برابروالي کې هغه کورنی شامليږي چې د بشپړونکي تغذيوي مرستې په پروګرام، د ملي ښوونځي د غرمنی ډوډۍ په پروګرام او هیډ سټارټ کې یې ګډون کړی وي یا هغه کسان چې په کلفورنیا کې د بشپړونکي امنیت د عاید امتیازات ترلاسه کوي.

- د لا ډېرو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره https://accessatt.solixcs.com لیدنه وکړئ.
- وروسته لدې چې تاسو ته خبر درکړل شو چې ستاسو غوښتنه تائید شوه، بیا د پیل لپاره AT&T ته ټیلیفون وکړئ.
  - انګلیسي: 5211-220 (855) هسپانوي: 5225-220 (855)

---

که چېرې د کوم دلیل له امله دغه چوپړتیاوې تاسو ته د لاسرسي وړ نه وي، ټوین ریورز د هر زده کونکي د کورنی لپاره د وړیا لیدو په موخه د وایفای یو هاټسپاټ لري. دغه هاټسپاټونه په یوې کورنی کې تر 15 زده کونکو ته د ښوونځي د کار لپاره له کافي چټکتیا سره د بنسټیز انټرنټ لاسرسي برابروي.

د لا ډېرو مالوماتو لپاره د ټوین ریورز ټکنالوژۍ د مرستې لیکې سره د techsupport@twinriversusd.org په اړیکه کې شئ یا (916) 566-7802 شمېرې ته ټیلیفون وکړئ.